# د مولی علی رضی اللہ عنہ ارشادات

پښتو



پیشکش:

مجلس المدینۃ العلمیہ (دعوت اسلامی)

ترجمو:

ټرانسلیشن ډیپارټمنټ (دعوت اسلامی)

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَ الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

# د مولٰی علی رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ 72 اِرشادات

**دُعائے عطّار:** یا الله پاکه! څوک چې دا رساله "**د مولٰی علی** رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ **72 اِرشادات**" اولولي یا واوري، هغه د مَولٰی علي شیر خُدا رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ په خاطر د ټولو صحابه و اهلِ بیت رښتینے غُلام جوړ کړې او هغه ته په **جَنَّتُ الْفِردَوس** کښې د مَولٰی علي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ګاونډ نصیب کړې- اٰمِین بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِین صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## د دُرود شریف فضیلت

یو ځل یو سوالګر د کفّارو نه سوال اوکړو، هغوئي د ټوقې د پاره د مخامخ ناست حضرتِ سیِّدُنا عَلِیُّ الْمُرْتَضٰی، شیرِ خُدا رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ خوا ته اولیږلو. هغه حاضِر شو او د سوال کولو د پاره ئې خپل لاس خور کړو، حضرتِ سیِّدُنا عَلِیُّ الْمُرْتَضٰی، رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ لس ځله دُرُود شریف اُولوستو او د هغه ورغوے [یعني د لاس تلے] ئې پرې دَم کړو او ورته ئې اوفرمائیل چې: مُوټے بند کړه او چا چې رالیږلے ئې لاړ شه د هغوئي په مخکښې ئې خلاص [یعني بیرته] کړه. (کفّارو خندل چې په هسې پوکلو څه کیږي!) خو چې کله سوالګر ورغلو او د هغوئي په مخکښې ئې مُوټے خلاص کړو نو په هغې کښې یو دِینار [یعني د سرو زرو اشرفئ] وه! دا کرامت ئې چې اولیدو نو ډیر کفّار مسلمانان شو. (رَاحَتُ الْقُلُوب ص۱۴۲)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

وِرد جس نے کیا دُرود شریف
اور دل سے پڑھا دُرود شریف
حاجتیں سب رَوا ہوئیں اُس کی
ہے عَجب کیمیا دُرود شریف

وظیفه چې کړو چا دُرُود شریف
چې د زړه نه اووئیل چا دُرُود شریف
حاجت پوره شو د هغه هر یو
ده عجیبه کیمیا درود شریف

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! ❀❀❀ صَلَّی اللّٰہُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

د مسلمانانو څلورم خلیفه، **اَمیرُ الْمُؤمِنِین** حضرتِ مَولیٰ علي شیرِ خُدا رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ په مَکّه مُکرَّمه کښې پیدا شو، د هغوئي والده حضرت بي بي فاطِمه بنتِ اَسَد رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہَا د هغوئي نوم د خپل والِد په نُوم ”**حیدر**“ کیښودو، والِد ئې ”**علي**“ نوم کیښودو او حضور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغوئي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ته د ”اَسَدُ الله“ لقب ورکړو (مِراٰۃُ المناجیح ج۸ ص۴۱۲) د دې نه علاوه ”کرَّار“ (یعني بیا بیا راتاویدلو او حَمله کولو والا)“، ”شیرِ خُدا“ او ”مولا مُشکل کُشا“ د هغوئي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ مشهور اَلقابات دي. د حضرتِ سیّدُنا عَلِيُّ الْمُرْتَضٰی رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ کُنیَت ”ابوالحسن“ او ”ابو تُراب“ دے. هغوئي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د حضور نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د تره ځوئي دے، هغوئي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ 4 کاله، 8 میاشتې او 9 ورځې خلافت اوکړو- په 17 یا 19 رَمَضَانُ الْمُبَارَك د یو خبیث خارِجي په قاتلانه حمله کښې سخت زخمي شولو او په 21 رَمَضَانُ الْمُبَارَك د اتوار په شپه شهید شولو- (اسد الغابة ج۴، ص۱۰۰ تاریخ الخُلَفاء ص۱۳۲، ۱۳۹ خلفاۓ راشدین، ص۳۱۳)

د اللّٰهُ رَبُّ الْعِزَّت دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بے حِسابه بخښنه اوشي. اٰمِین بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِین صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

علیُّ المرتَضیٰ شیرِ خدا ہیں
کہ اِن سے خوش حبیبِ کبریا ہیں

عَلِيُّ الْمُرْتَضٰی شیرِ خُدا دے
چې راضي د هغوئي نه رَسُولُ الله دے

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! ❀❀❀ صَلَّی اللّٰہُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

# د مولٰی علی رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ اِرشادات

﴿1﴾ د عمل نه زیات د هغې د قَبولِیَّت اهتمام کوه، ځکه چې پرهیزګارئ سره کړے لږ عمل هُم ډیر وي او کوم عمل چې قبول شي هغه به څنګه کم وي؟

(کَنزُ العُمّال جُزء ۱۰، ۲ ص ۲۷۸ حدیث ۸۴۹۲)

﴿2﴾ (د اختر په ورځ ئې اُوفرمائیل:) هره هغه ورځ چې په هغې کښې د اللّٰه پاک نافرماني اونکړے شي هغه زمونږ د پاره د اختر ورځ ده- (قُوتُ الْقُلُوب ج ۲ ص ۳۸)

﴿3﴾ زه په تاسو باندې د دوو څیزونو ډیره زیاته ویره لرم: (1) د خواهش پیروي او (2) اُوګږده اُمِّیدونه- (الزهد لابن المبارک ج ۱ ص ۸۶ حدیث ۲۵۵)

﴿4﴾ څوک چې دا ګُمان لري چې د نیکو اعمالو کولو نه بغیر به جَنَّت ته داخل شي نو هغه دروغژن اُمِّید کښې اخته دے- (ایها الولد، ص ۱۱)

﴿5﴾ خرچ کوه، تشهیر [ښودنه] مه کوه او ځان د دې د پاره مه اوچتوه چې تا خلق اُوپیژني او ستا نُوم اُوشي بلکه پټ اوسه او خاموشي اختیار کړه، سلامت به اوسے-

(اِحْیَاءُ الْعُلُوم ج ۳ ص ۳۲۹)

﴿6﴾ د انسان وَنه (قد) 22 کالو پورې او عقل ئې د 28 کالو د عُمره پورې زیاتیږي، د هغې نه پس د مرګ د ساعته پورې د تجرباتو سلسله وي- (الکواکب الدریة، ج ۱ ص ۱۰۲)

﴿7﴾ د ګناهونو د سپیره والي په وجه په عبادت کښې سُستي او په رِزق کښې تنګي راځي- (طبقاتُ الصوفیاء، جلد ۱ ص ۱۰۶)

﴾8﴿ بنده بے صبري اوکړي او ځان د حلالې روزئ نه محرومه کړي خو د هغې باوجود د مُقَدَّر نه زیاته نه شي حاصلولے- (المستطرف جلد۱، ص ۱۲۴)

﴾9﴿ د کوم "تکلیف" نه پس چې "جَنَّت" مِلاویدو والا وي هغه "تکلیف" نه دے او د کو "راحَت" انجام چې "دوزخ" وي هغه "راحت" نه دے- (المستطرف ج۱، ص ۱۴۰)

﴾10﴿ خپله رائے کافي ګڼړلو والا په خطره کښې دے- (المستطرف ج۱، ص ۱۳۱)

﴾11﴿ چې کله ته د خپل دُښمن نه بدل اخستلو باندې قادِر شې نو د دې په شُکرانه کښې هغه مُعاف کړه- (الکواکب الدرية ج۱ ص ۱۰۲)

﴾12﴿ د هغه خلقو نه مه کیږه، چا ته چې نصیحت صرف هغه وخت فائده ورکوي چې کله [د هغه] په ملامتیا کښې مُبالَغه اوکړے شي (یعني ډیر زیات شرمنده کړے شي)- (المستطرف ج۱، ص ۱۳۹)

﴾13﴿ د لالچ ځلیدل چې اؤوینې نو اکثر عقل ګُزار خوري- (المستطرف ج۱، ص ۱۲۸)

﴾14﴿ چې کله د چا عقل کامِل شي نو د هغه په خبرو کښې کمے راشي- (المستطرف ج۱، ص ۱۴۶)

﴾15﴿ په خلقو کښې چې څوک زیات عِلم والا وي هغه د اللّٰه پاک نه زیات یَریږي، زیات عبادت کوي او د اللّٰه پاک (د رضا) د پاره زیات نصیحت کوي- (منهاجُ الْعَابِدِين ص ۱۶)

﴾16﴿ مال و اولاد د دُنیا کروَنده ده او نیک اعمال د آخرت، اللّٰه پاک خپلو ډیرو بندګانو ته دا ټول عطا کوي- (حسن التنبه، ۳/۱۴۳)

﴾17﴿ که زه اُوغواړم نو د سُوْرَةُ الْفَاتِحَه د تفسیر نه به 70 اوښان بار کړم- (یعني د دې تفسیر لیکلو کښې به دومره رجسټرې ډکې شي چې 70 اوښان به ئې ورلے شي-) (قُوتُ الْقُلُوب ج۱ ص ۹۲)

﴿18﴾ که د شرابو يو څاڅکے په کوهي کښې پريوځي، بيا په هغه ځائے مَناره جوړه کړے شي نو زه به په هغې اذان اونکړم او که په درياب کښې د شرابو څاڅکے پريوځي بيا درياب وچ شي او هلته ګيا اوشي نو زه به په هغې کښې خپل څاروي اُو نه څرَوُوم- (تفسیر مدارک، البقرة، تحت الآیة: ۲۱۹، ص ۱۱۳)

﴿19﴾ اُوګږده اُمِّيدونه آخرت هيروي او د خواهشاتو اِتِّباع د حق نه حصارول کوي-

(شُعَبُ الْاِیمان ج ۷ ص ۳۶۹ حدیث: ۱۰۲۱۶)

﴿20﴾ خپلو کورونو نه د جولاګانو جالونه لرې کړئ، دا د نادارئ (تنګدستئ) باعث وي-

(تفسیر مدارک، پ ۲۰، العنکبُوت، تحت الآیة: ۴۱، ۵/ ۵۸۴)

﴿21﴾ د هرې نيکئ کوونکي نيکئ به تللے کيږي سِوا د صبر کوونکو نه چې هغوئي ته به بے اندازه او بے حسابه ورکوے کيږي- (تفیسرِ خازن، پ ۲۳، الزُمر، تحت الآیة: ۱۰، ۴/ ۵۱)

﴿22﴾ د جنت دروازے ته نزدے يوه ونه ده، د هغې نه لاندې دوه چينے بهيږي، مومن چې هلته اورسيږي نو په يوه چينه کښې به غسل کوي په هغې به د هغه بدن پاک او صفا شي او د بلې چينے اُوبه به اوڅښي، په هغې به د هغه باطِن پاک شي بيا به فرښتے د جَنَّت په دروازه کښې (د هغه) استقبال کوي-

(تفسیرِ کبیر پ ۲۴، الزُمر، تحت الآیة: ۷۳، ۹/ ۴۷۹، ۴۸۰.. تفیسرِ خازن ۴/ ۶۳، ۶۴ ملتقطا)

﴿23﴾ دوه دوستان مُؤمِنان او دوه دوستان کافِران (وو)، په مُؤمِنانو دوستانو کښې يو مړ شي نو بارګاهِ اِلٰهي کښې عرض کوي: يا رَبه! فلانکي به ما ته ستا او ستا د رسول د فرمانبردارئ او د نيکئ کولو حُکم کولو او زه به ئې د بدو نه منع کولم، او خبر به ئې راکولو چې زه به ستا په دربار کښې حاضريږم، يا رَبه! هغه زما نه پس مه ګُمراه کوے

او هغه ته هدايت اوکړې ښکه دِ چې ما ته هدايت اوکړو او د هغه اِکرام اوکړې ښکه چې دِ زما اِکرام اوکړو- چې کله د هغه، هغه مُؤمِن دوست مړ شي نو **الله** پاک دواړه يو ځائے کړي او فرمائي چې تاسو دواړه د يو بل صِفَت اوکړئ نو يو وائي چې دا ښه ورور دے، ښه دوست دے، ښه ملګرے دے-

او دوو کافرو دوستانو نه چې يو مړ شي نو دُعا کوي، يا رَبـه! فلانکـي به زه ستا او ستا د رَسُول د فرمانبردارئ نه منع کولم او د بدئ حُکم به ئې راکولو، د نيکئ نه به ئې منع کولم او خبر به ئې راکولو چې زه به ستا په بارګاه کښې نه حاضرېږم نو **الله** پاک فرمائي چې په تاسو کښې هر يو د بل صِفَت اوکړئ نو په هغوئ کښې يو بل ته وائي: بد ورور، بد دوست، بد ملګرے- (تفسير خَزائِنُ الْعِرفان، پ۲۵، الزخرُف، تحت الآية:٦٦)

﴿24﴾ عِلم خزانه ده او تپوس کول د هغې چابي ده، **الله** پاک دِ په تا رحم اُوفرمائي: تپوس کوئ ځکه چې په دې (تپوس کولو) کښې څلورو کسانو ته ثواب ورکولے کيږي- تپوس کوونکي ته، جواب ورکوونکي ته، اوريدونکي ته او هغوئ سره مَحَبَّت کوونکي ته-

(مسند الفردوس، ۲/۸۰، حديث:۴۰۱۱)

﴿25﴾ درې څيزونه حافظه تيزوي او بلغم لرې کوي- (1)مسواک (2)روژه (3)قرآنِ پاک لوستل- (اِحْيَاءُ الْعُلُوم ج۱ص ۳٦۴)

﴿26﴾ څوک چې بغير د عِلم نه خلقو ته فتوٰی ورکړي، د آسمان او زمکې فرښتے په هغه لعنت کوي- (المستطرف ج۱، ص۳۹)

﴿27﴾ په ظالِم باندې د مظلوم د غلَبے ورځ (يعني د قيامت ورځ) په مظلوم باندې د ظالِم د غلَبے د ورځې نه زياته سخته ده- (المستطرف ج۱، ص۱۸٦)

﴿28﴾ لږ خیز ورکولو کښې شرم مه کوه ځکه چې د ورکړې نه محرومه پاتې کیدل د دې نه هُم لږ دي- (المستطرف ج۱، ص ۲۸۳)

﴿29﴾ په الله پاک مې دِ قَسَم وي زه د قرآنِ کریم د هر آیت په باره کښې دا عِلم لرم چې هغه کله او کوم ځائے کښې نازل شوے دے، بے شکه زما رب ما ته ډیر پوهه لرونکے زړه او ډیره تیوس کوونکې ژبه عطا کړې ده- (الطبقات الکبریٰ لابن سعد، ۲/۲۵۷ بتغییر)

﴿30﴾ په ورځ د قیامت به دُنیا په ښکلې شکل کښې راځي او عرض به کوي: اے زما رَبه! ما ته خپل کوم ولي را عطا کړې، الله پاک به فرمائي: ځه! ستا هیڅ حقیقت نشته او نه زما په بارګاه کښې ستا څه مقام شته چې زه تا ته خپل ولي درعطا کړم- چنانچه هغه به د زړے کپړے په شان راتوله کړے شي او جَهنَّم ته به غوزار کړے شي- (حِلْيَةُ الْأَوْلِيَاء ۱/۱۱۳)

﴿31﴾ خیر دې ته نه وائي چې تا ته ډیر زیات مال او اولاد حاصل شي بلکه خیر دا دے چې ستا عِلم زیات وي او ستا حِلم (یعني قُوَّتِ برداشت) هُم عظیم وي او د الله پاک عبادت دومره زیات اوکړې چې د خلقو نه مخکښې شې، [خیر دا دے] چې کله ته په نیکئ کولو کښې کامیاب شې نو په دې باندې د الله پاک شُکر ادا کړې او که ته په ګناه کښې اخته شې نو الله پاک نه د هغې بخښنه اُوغواړې- او په دُنیا کښې خیر هغه انسان ته حاصلیږي څوک چې د ګناه کیدلو په صورت کښې توبه اوکړي او د هغې اِصلاح اوکړي یا هغه کس څوک چې په نیکو کولو کښې تادي کوي- (الزھد للبیھقي حدیث۸۰۸/۲۷۹ مُلَخَّصاً)

﴿32﴾ زما پینځه خبرې یادې ساتئ (او دا داسې قیمتي خبرې دي چې) که تاسو په اوښانو سواره شئ او د دې د تلاش کولو د پاره اُوځئ نو اُوښان به ستړي شي خو دا خبرې به ملاو نه شي: (1)بنده دِ صرف دخپل ربِّ کریم نه اُمِّید ساتي- (2)د خپلو ګناهونو په وجه

دِ مسلسل ويره لري- (3)جاهِل دِ د ”عِلم“ په باره کښې تپوس کولو کښې نه شرميږي- (4)او که عالِم ته د کومې مسئلے په باره کښې عِلم نه وي نو (بالکل دِ هغه مسئله نه ښائي او د خپلې لاعِلمئ اِظهار دِ اوکړي او صفا اِنکار دِ اوکړي او) د”وَاللّٰہُ اَعلَم يعني **الله** پاک د ټولو نه زيات عِلم والا دے“ وئيلو نه دِ نه يَريږي او (5) په ايمان کښې د صبر هغه حيثيت دے کوم چې په بدن کښې د سر دے، د هغه ايمان کامِل نه دے څوک چې د بے صبرئ مُظاهره کوي- (شُعَبُ الْاِيمان للبيهقي ج ۷ ص ۱۲۴ حديث ۹۷۱۸ بتغير قليل)

﴿33﴾ د **الله** پاک بے نُومه [يعني غير مشهوره] بندګانود پاره خوشخبري ده! هغه خلق چې هغوئ پخپله خو خلق پيژني ليکن خلق هغوئ نه پيژني، **الله** کريم (په جَنَّت باندې مقررې فرښتے) حضرتِ رِضوان عَلَيْهِ السَّلَام ته د هغوئ پيژندګلو کړې ده، هُم دا خلق د هدايت روښانه شمعې دي او **الله** پاک د تِيارو ټولې فِتنے په هغوئ ظاهري کړې دي- **الله** پاک به هغوئ په خپل رحمت کښې (جَنَّت ته) داخلوي، هغوئ نه شُهرت غواړي نه ظُلم کوي او نه په رِياکارئ کښې اخته کيږي- (الزهد لهنّاد، ۲/ ۴۳۷، حديث: ۸۶۱)

﴿34﴾ واورئ! کامِل فَقِيهه هغه دے څوک چې خلق د **الله** پاک د رَحمت نه نه مايُوسه کوي، د **الله** پاک د عذاب نه ئې نه بے ويرې کوي، د هغه د نافرمانئ رُخصت نه ورکوي او د قرآنِ کريم په مقابله کښې په بل څيز کښې رغبت نه ساتي- (دارمي، ج۱، ص۱۰۱ حديث: ۲۹۷، ۲۹۸)

﴿35﴾ اے خلقو! د عِلم سرچشمے، د شپې شمعې (يعني د شپې عبادتِ اِلٰهي کوونکي)، د زوړ لباس والا او پاکيزه زړونو والا جوړ شئ، د دې په وجه به په آسمانونو کښې ستاسو شُهرت کيږي او په زمکه به ستاسو ذِکر اوچت شي-

(دارمي، ج۱، ص ۹۲، حديث: ۲۵۶ بتغير)

﴿36﴾ عِلم د مال نه بهتر دے- عِلم ستا حفاظت کوي او د مال حفاظت تا ته در په غاړه وي- عِلم خورولو سره زیاتیږي او مال خرچ کولو سره کمیږي- عالِم سره خلق مَحَبَّت کوي- عالِم د عِلم په وجه په خپل ژوند کښې د **الله** پاک فرمانبرداري کوي- د عالِم د مرګ نه پس هُم د هغه ذِکرِ خیر باقي وي او د مال فائده د هغې د ختمیدو سره سمدستي ختمه شي او هُم دا مُعامَله د مالدارانو ده چې په دُنیا کښې د مال ختمیدو سره سمدستي د هغوئي نوم هُم ختم شي، د دې برخلاف د عُلَماء نُوم تر قیامته پورې باقي اوسي- د مالدارانو نوم اخستونکي چرته هُم نه ښکاري او د عُلَمائے دِین عِزَّت او مقام همیشه د خلقو په زړونو کښې قائم اوسي- (حِلْيَةُ الْاَوْلِیَاء ج ص حدیث)

﴿37﴾ درې اعمال مشکل دي: (1)د خپل ځان حق ادا کول (2)په هر حال کښې د **الله** پاک ذِکر کول او (3) خپلو ضرورتمندو مسلمانانو ورونړو سره مالي تعاون کول-

(حِلْيَةُ الْاَوْلِیَاء ۱/۱۲۶)

﴿38﴾ چې کله ته یو څیز حاصلول غواړې نو بیا په هغې کښې داسې اولګه چې بس هر وخت د هغې د حاصلولو کوشش کوه- (تعلیم المتعلم، ص۱۰۹)

﴿39﴾ بیشکه د نعمت تَعَلُّق ”شُکر“ سره دے او د شُکر تَعَلُّق د نعمتونو د زیاتوالي سره دے، دا دواړه د یو بل د پاره لازِم دي- پس د **الله** پاک له طرفه د نعمتونو زیاتوالے تر هغه وخته پورې نه اودریږي تر څو چې د بنده له طرفه ”شُکر“ اُو نه درېږي- (شُکر کے فضائل، ص۱۱)

﴿40﴾ د اته ویشتمې سیپارے سُوْرَۃُالتَّحرِیم آیت نمبر 6 ﴿یٰۤاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا قُوْۤا اَنْفُسَكُمْ وَ اَهْلِیْكُمْ نَارًا﴾ (اِمَفهوم[ترجمۂ کنزُالایمان:اے ایمان والؤ! خپل ځانونه او د خپلو کورونو کسان د هغه اور نه بچ کړئ) په تفسیر کښې حضرت علي شیرِ خُدا رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ فرمائي: د دې آیت تقاضه ده

چې خپل ځان او د خپل کور والؤ ته د نيکئ تعليم ورکړه او هغوئي ته د ژوند آداب زده کړه- (تفسیر دُرِّ منثور ج۸ ص۲۲۵)

﴿41﴾ زما په نزد د هغه کس نه زيات خوښ بل نشته چا چې الله کريم سره د خپلې نيکۍ اعمال نامے سره ملاقات کړے وي- (تاریخ الخلفاء، ص۴۵)

## د شيخينِ کريمَين په باره کښې اِرشادات

﴿42﴾ څوک چې ما ته د حضرتِ ابو بکر و عُمَر (رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُمَا) نه بهتر اُووائي زه به هغه ته د مُفتري (يعني د بُهتان لګوونکي سزا) ورکووم- (تاریخ اِبنِ عساکر، ۳۰/۳۸۳)

﴿43﴾ په دې اُمَّت کښې د نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه پس د ټولو نه بهتر (حضرت) اَبُو بکر و عُمر (رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُمَا) دي- (تاریخ اِبنِ عساکر، ۳۰/۳۴۶ ملتقطا) ✿ امام ذَهبي رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ فرمائي چې دا قول د حضرت علي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ نه تواتُر سره منقول دے- (تاریخ الخلفاء، ص۳۴)

﴿44﴾ (حضرت) ابو بکر رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د شُکر کوونکو او د الله د خوښو بندګانو اِمين دے (د تفسيرِ طِبري په يوه نُسخه او بعضو تفسيرونو کښې د لفظِ "اَمِين" په ځائے "اَمِير" ليکلے شوے دے) حضرت ابوبکر رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د هغوئي ټولو نه زيات شُکر کوونکے او د ټولو نه زيات الله ته خوښ دے- (تفسیرِ طِبري، پ۴، اٰلِ عمران، تحت الآیۃ: ۱۴۴، ۳/۴۵۵)

﴿45﴾ په مونږ کښې د ټولو نه زيات بهادُر حضرت ابوبکر صديق رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ وو- (مسند بزار، ۳/۱۴ حدیث ۷۶۱)

﴿46﴾ ياد ساتئ! هغه (يعني ابو بکر صديق رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ) په انسانانو کښې [د نبيانو نه پس] د ټولو نه زيات رحم دِله، د نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم يارِ غار او د خپل مال نه حُضُور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته د ټولو نه زياته ګټه رسوونکے دے- (الریاض النضرۃ، ۱/۳۰)

﴿47﴾ په مونږه ټولو صحابؤ کښې حضرت ابوبکر د ټولو نه زيات افضل دے۔

(الریاض النضرۃ، ۱/۱۳۸)

﴿48﴾ (په قَسَم سره ئې اِرشاد اُوفرمائيلو:) اللّٰه پاک د ابوبکر نُوم "صِدِّيق" د آسمان نه نازِل کړے دے۔ (مستدرک علی الصحیحین، ۴/۴، حدیث۴۴۶۱)

﴿49﴾ زه خو د حضرتِ سَيِّدُنا ابوبکر صِدِّيق رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ په ټولو نيکو کښې صرف يوه نيکي يم۔ (فضائل ابی بکر الصدیق للعشاری، ص۵۱، رقم: ۲۹، تاریخ اِبنِ عساکر، ۳۰/۳۸۳)

﴿50﴾ د نبيِّ کريم رَءُوْفٌ رَّحِيم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه پس د ټولو نه بهترين شخصيات (حضرت) ابو بکر و عُمر (رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُمَا) دي، د يو مُؤمِن په زړه کښې زما مَحَبَّت او د (حضرت) ابو بکر و عُمر (رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُمَا) بُغض نه شي جمع کيدے، او نه په کښې زما دُښمني او د (حضرت) ابو بکر و عُمر (رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُمَا) مَحَبَّت جمع کيدے شي۔

(مُعْجَم اَوْسَط ج ۳ ص۷۹ حدیث۳۹۲۰، تاریخ اِبنِ عساکر، ۳۰/۳۵۶ملتقطا)

## د جَنَّت اجازت نامه

يو ځل د حضرتِ سَيِّدُنا حضرتِ سَيِّدُنا ابوبکر صِدِّيق او حضرتِ سَيِّدُنا عَلِیُّ الْمُرْتَضٰی شيرِ خُدا رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُمَا ملاقات اوشو نو صديق اکبر رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ مَولٰی علي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ته اوکتل او مُسکے شولو۔ حضرت عَلِیُّ الْمُرْتَضٰی رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ترينه تپوس اوکړو: "تاسو ولې مُسکے شولئ؟" حضرتِ سَيِّدُنا ابوبکر صِدِّيق رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ اُوفرمائيل: "ما د رَسُولُ اللّٰه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه دا فرمان اوريدلے دے چې پُل صِراط باندې به هُم هغه تيريږي چا ته چې عَلِیُّ الْمُرْتَضٰی تحريري اجازت نامه ورکړي۔" دا ئې چې واوريدل نو حضرت عَلِیُّ الْمُرْتَضٰی رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ هُم مُسکے شولو او اُوئې وئيل: آيا زه تاسو ته د رَسُولُ اللّٰه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم له طرفه ستاسو د پاره بيان کړې

خوشخبري وا نه ورُوم چې رَسُولُ الله صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائیلے دے: ”پُلِ صِراط باندي د تیریدلو تحریري اجازت نامه به صرف هغه ته مِلاویږي څوک چې ابوبکر صِدّیق سره مَحبّت کوونکے وي۔“ (الریاض النضرۃ،۱/۲۰۷)

اللہ میرا حشر ہو بُوبکر اور عُمر عُثمانِ غنی و حضرتِ مولٰی کے ساتھ

- هر صحابيِ نبي ............. جَنَّتي جَنَّتي
- ټولې صحابیاتې هُم ............. جَنَّتي جَنَّتي
- حضرتِ صدیق هُم ............. جَنَّتي جَنَّتي
- او عُمَر فاروق هُم ............. جَنَّتي جَنَّتي
- حضرتِ عُثمان هُم ............. جَنَّتي جَنَّتي
- فاطِمه او علي ............. جَنَّتي جَنَّتي
- والِدَین د نبي ............. جَنَّتي جَنَّتي
- هر زوجهٔ نبي ............. جَنَّتي جَنَّتي

﴿51﴾ خپله ژبه قابو کښې ساته ځکه چې د انسان هلاکت په زیاتو خبرو کولو کښې دے۔ (بحر الدموع، ص۱۷۵)

﴿52﴾ چې کله بنده وفات شي نو په زمکه کښې د هغه د لـمانځه ځائے او په آسمان کښې د هغه د عمل ځائے په هغه پسې ژاړي۔ الزهد لابن المبارک، ص۱۱۴، حدیث:۳۳۶

﴿53﴾ څوک چې په لـمانځه کښې په ولاړه د قرآنِ مجید تلاوت اوکړي د هغه د پاره د هر حَرف په بدله کښې 100 نیکۍ دي او څوک [په لـمانځه کښې] په ناسته تلاوت اوکړي د هغه د پاره د هر حَرف په بدله کښې 50 نیکۍ دي او څوک چې ئې د لـمانځه

نه علاوه په اوداسه كښې تِلاوت اوكړي د هغه د پاره 25 نيكئ دي او څوک چې ئې بے اودسه تلاوت اوكړي د هغه د پاره 10 نيكئ دي او د شپې قيام (يعني عبادت) افضل دے ځكه چې هغه وخت زړه زيات فارِغه وي- (اِحْيَاءُ الْعُلُوم ج۱ص۳۶۶)

﴿54﴾ حيرانتيا ده په هغه كس، څوک چې د نجات د سامان لرلو باوجود هلاک شي- چا ترينه تپوس اوكړو: د نجات سامان څه دے؟ اُوئې فرمائيل: اِستِغفار- (اِحْيَاءُ الْعُلُوم ج۱ ص۴۱۴)

﴿55﴾ زه هغه كس كامِل عقل والا نه ګڼړم څوک چې د سُوْرَةُالْبَقَرَه آخري دوه آياته لوستلو نه بغير اُوده شي- هغه دوه آيتونه دا دي:

﴿اٰمَنَ الرَّسُوْلُ بِمَآ اُنْزِلَ اِلَيْهِ مِنْ رَّبِّهٖ وَ الْمُؤْمِنُوْنَ ؕ كُلٌّ اٰمَنَ بِاللّٰهِ وَمَلٰٓئِكَتِهٖ وَ كُتُبِهٖ وَ رُسُلِهٖ ۟ لَا نُفَرِّقُ بَيْنَ اَحَدٍ مِّنْ رُّسُلِهٖ ۟ وَ قَالُوْا سَمِعْنَا وَ اَطَعْنَا ۫ غُفْرَانَكَ رَبَّنَا وَاِلَيْكَ الْمَصِيْرُ ﴿۲۸۵﴾﴾

[مَفهُوم] ترجمۂ كنزُالاِيمان: رسول ايمان راوړو په هغې، څه چې د هغه د رب له طرفه په هغه نازِل شو او د ايمان خاوندانو. ټولو اللّٰه او د هغه فرښتے او د هغه كتابونه او د هغه رسولان اُومنل، داسې چې مونږه د هغه په يو رسول باندې هم په ايمان راوړلو كښې فرق نه كوو، او عرض ئې اوكړو چې مونږه واوريدل او اُومنل، ستا [له طرفه] بخښنه دِ وي اے زمونږه ربه! او هُم ستا په لور ګرځيدل دي.

## د ښه صحت په باره كښې اِرشادات

❁ څوک چې طعام د مالكې (يا مالګين څيز) نه شروع كوي الله كريم د هغه اَويا بيمارئ لرې كوي- ❁ څوک چې هره ورځ 7 عَجوه كجورې خوري د هغه د خيټې

بيماريځ به ختمېږي- ❁خوک هره ورځ 21 دانے د سرو وخکو خوري په خپل بدن کښې به يو ناخوښه څيز هُم نه وينې- ❁غوښه، غوښه پيدا کوي- ❁ثَرِيد د اَهلِ عَرَب طعام دے- ❁نفاس والا ښځې د پاره د لـمدو کجورو نه بهتر بل يو څيز نشته- ❁مهيا بدن وِيلي کوي (يعني نرے کوي)- خوک چې اُوګړِد عُمر غواړي هغه دِ ناشته زر (سحر په خره کښې) کوي، د ماښام طعام دِ کم او ناوخته خوري او څادر دِ سپک ساتي يعني قرض دِ نه اخلي- (عيون الاخبار ج۳ ص ۲۹۳، ملتقطا)

﴾56﴿ درې عادتونه په سړو کښې بد خو په ښځو کښې ښه دي: (1)بُخل (2)خپل ځان ښه ګڼړل (3)بُزدِلي- وَضاحت: ځکه چې که ښځه بَـخِيله (يعني شُومه/کنجُوسه) وي نو د خپل او د خاوند د مال حفاظت به کوي- که ځان ښه ګڼړي نو هر چا سره به نرمې خبرې نه خوښوي او که بُزدِله وي نو د هر څيز نه به ويرېږي، ځکه به د کوره نه اُوځي او د خپل خاوند د ويرې به د ځايونو نه ځان ساتي- (اِحْيَاءُ الْعُلُوم ج۲ ص۵۰)

﴾58﴿ ستا رښتينے دوست هغه دے کوم چې ستا مرسته اوکړي او ستا د فائدے د پاره ځان ته نقصان اورسوي- چې کله په تا د زمانے ګردِش راشي (يعني حالاتِ تنګ شي) نو ستا مدد اوکړي او ستا حفاظت د پاره خپل څادر خور کړي- (اِحْيَاءُ الْعُلُوم ج۲ ص۲۱۴)

﴾59﴿ چې کله په تاسو کښې د چا په خيټه کښې درد وي نو د خپلې ښځې نه دِ د هغې د مهر نه څه رقم اوغواړي او په هغه رقم دِ شهد واخلي او هغه شهد دِ د باران په اوبو کښې ګډ کړي او اُو دِ ئې څښي- دغسې به د هغې په څښلو کښې هَناء، شِفاء او مبارکي اوبه جمع شي- (اِحْيَاءُ الْعُلُوم ج۲ ص۲۶۲) (دلته د هَناء نه دې آيت طرف ته اِشاره ده: وَاٰتُوا النِّسَآءَ صَدُقٰتِهِنَّ نِحْلَةً ؕ فَاِنْ طِبْنَ لَكُمْ عَنْ شَیْءٍ مِّنْهُ نَفْسًا فَكُلُوْهُ هَنِیْٓــًٔا مَّرِیْٓــًٔا ﴿۴﴾ [مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِيمان: او ښځو ته د هغوئې مهر په خوشحالئ ورکړئ، بيا که هغه د خپل زړه په خوشحالئ د مهر نه تاسو ته څه درکړي نو هغه اوخورئ په مړه خيټه په خوند-)

﴿60﴾ خلقو! تاسو خپل مينځ کښې د شهدو د مچو په شان شئ، اګر چې نور د اَلوَتلو ځيزونه هغوئي کمزوري ګڼړي خو که هغوئي ته دا معلومه شي چې د شهدو د مچو په خيټه کښې اللّٰه پاک لوئي بَرَکت ايښودے دے نو کله به ئې هُم سپکې نه ګڼړلے۔

(تاریخ الخلفاء، ص۱۴۳)

﴿61﴾ اے قرآن زده کوونکو! په اَحکامِ قرآني عمل اوکړئ، عالِم هُم هغه دے چې د علم حاصلولو نه پس په هغې عمل اوکړي او خپل عمل ته د خپل عِلم پورا مُوافقت ورکړي(يعني چې د هغه عمل د عِلم مطابق شي)- (تاریخ الخلفاء، ص۱۴۳)

﴿62﴾ "توفِيقِ اِلٰهي" بهترين رهبر دے، "خوش اخلاقي" بهترين دوست دے، "عقل و شعور" بهترين ملګرے دے، "ادب" بهترين مِيراث دے، او "غَم" د تَڪَبُّر نه هُم زيات بد تر دے- (تاریخ الخلفاء، ص۱۴۴)

﴿63﴾ مصيبت او پريشاني هُم چې يو مقام ته اورسي نو ختم شي- ځکه عقلمند ته پڪار دي چې د مصيبت په حالت کښې صبر اوکړي چې مصيبت په خپل ميعاد لا ړ شي ګني د ميعاد نه مخکښې د مصيبت لرې کولو کوشش مصيبت نور زياتوي- (تاریخ الخلفاء، ص۱۴۴)

## اِمام حَسَن مُجتبٰی رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ ته نصيحتونه

﴿64﴾ چې کله بدبخته اِبنِ مَلجَم حضرتِ سَيِّدُنا عَلِيُّ الْمُرْتَضٰى رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ زخمي کړلو نو امام حسن مُجتبٰی رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ د خپل والِدِ ماجِد رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ په خدمت کښې په ژړا ژړا حاضر شو نو حضرتِ سَيِّدُنا عَلِيُّ الْمُرْتَضٰى رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ ورته اِرشاد اُوفرمائيلو: بچيه: اَته خبري يادي ساته: (1) د ټولو نه لوئي دولت "عقلمندي" ده (2) د ټولو نه غټه غريبي "بے وقوفي" ده (3) د ټولو نه زيات وَحشَت او ويره "تَڪَبُّر" دے (4) "خوش اخلاقي او ښه کِردار" د ټولو نه

زياته بزرګي او کرم دے- او بچيه! دې خلورو څيزونو نه هميشه ځان ساته: (1) د بے وقوفه د دوستئ نه، اګر چې هغه [بنده ته] فائده رَسَوَل غواړي خو آخر دا چې [بنده ته] د هغه نه تکليف اُورسي (2) د دروغژن ملګري نه، ځکه چې هغه نزدې لرې کوي او لرې نزدې کوي (3) شُوم [کنجُوس] سره (دوستئ نه) ځکه چې هغه په تا باندې هغه څيزونه پريږدي د کومو چې تا ته سخت ضرورت وي او (4) د فاجِر (يعني ګنهګار) د دوستئ نه ځکه چې هغه به تا د لږ څيز په بدل کښې خرڅ کړي- (تاریخ الخلفاء، ص۱۴۵)

﴾65﴿ زياته هوښياري [ښکاره کول] در اصل "بد ګماني" ده- (تاریخ الخلفاء، ص۱۴۶)

﴾66﴿ مَحبَّت د لرې خاندان والا نزدې کوي او دُښمني د خاندان نزدې خپلوان لرې کوي- لاس بدن ته ډير زيات نزدے دے خو چې کله سخا شي [يعني د زخم وغيره په وجه ئې غوښه خرابه شي] نو کټ کړے شي او آخر دا چې اُوداغلے شي- (تاریخ الخلفاء، ص۱۴۶)

﴾67﴿ کله چې زما نه د يوې داسې خبرې تپوس اوکړے شي چې د هغې په جواب کښې دا اُووايم چې الله پاک بهتر پوهيږي چې زه د دې مسئلے نه ناواقفه يم نو دغه وخت ما ته ډير راحت کيږي او زما دا جواب ما ته ېخپله ډير خوښ او مرغُوب دے- (تاریخ الخلفاء، ص۱۴۷)

﴾68﴿ په خلقو کښې عدل و انصاف کوونکي باندې لازِم دي چې څه د نورو د پاره خوښ کړي هُم هغه د ځان د پاره خوښ کړي- (تاریخ الخلفاء، ص۱۴۷)

﴾69﴿ ته د آخرت څوئې جوړ شه! د دُنيا نه! ځکه چې نن (يعني په دُنيا کښې) عمل دے، حساب نشته او صبا (يعني په آخرت کښې) حساب دے عمل نشته- (حِلْيَةُ الْاَوْلِيَاء ۱/۱۱۷)

﴿70﴾ د رياکار درې نښې دي چې کله يواځې وي نو په عبادت کښې به سستي کوي او نفلونه به په ناسته کوي او چې کله په خلقو کښې وي نو سستي به نه کوي بلکه عمل به زيات کوي، او که خلق ورپورې بد اُووائي نو [عبادت] پرېږدي- (تَنۡبِيۡهُ الۡمُغۡتَرِّيۡن ص۲۶)

﴿71﴾ څوک چې د جَنَّت اُميدوار وي هغه په نيکو کښې تادي اوکړه، څوک چې د جَهنَّم نه اُويَرېدو هغه خپل ځان د ناجائزه خواهشاتو نه حصار کړو او چا ته چې د مرګ يقين اوشو هغه د دُنيا خوندونه ختم کړل [يعني پرېښودل]- (مکاشفة القلوب، ص۳۱)

﴿72﴾ سترګې د شيطان جال دے سترګه سَرِيعُ الاثر (يعني زر اثر قبلوونکے) اندام دے او ډېر زر بيلات کوي، چا چې خپل بدني اندامونه د **الله** پاک په عبادت کښې اِستعمال کړل د هغه اُمِّيد پوره شو او چا چې د خپل بدن اندامونه په خواهشاتو پسې اولګول د هغه اعمال باطِل شولو- (مکاشفة القلوب، ص۹۲)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

## نیك او لـمونځ گزاره جوړېدو د پاره

هر زیارت د ماښام د لـمانځه نه پس ستاسو په ښائے کښې کیدونکې د دعوتِ إسلامي د سُنَّتو ډکه هفته واره اجتماع کښې د رِضائے إِلٰهي د پاره ښو ښو نیتونو سره ټوله شپه تیروئ ❁ د سُنَّتو د تربیَت د پاره مَدَنِي قافلو کښې عاشقانِ رسُول سره هره میاشت د درې ورځو سفر او ❁ هره ورځ د "فِکرِ مَدِینه" په ذریعه د مَدَنِي إنعاماتو رِساله ډکوئ او د هرې مَدَني میاشتې په یکم تاریخ ئې د خپل ځائے ذِمّه دار ته د جمع کولو معمول جوړ کړئ.

زما مَدَنِي مقصد: "ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنیا د خلقو د إصلاح کوشش کول دي" إِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ. د خپلې إصلاح د پاره په "مَدَنِي انعاماتو" عمل او د ټولې دُنیا د خلقو د اصلاح د کوشش کولو د پار "مَدَنِي قافلو" کښې سفر کول دي. إِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ







فیضانِ مدینه محلّه سوداگران زړه سبزي منډئ، بابُ الـمدینه (کراچۍ)
UAN: +92 21 111 25 26 92 | Ext: 7213
Web: www.maktabatulmadinah.com | E-mail: feedback@maktabatulmadinah.com